# په افغانستان کې د اساسي حقونو تدریجي تکامل: ۱۹۲۴-۲۰۰۴

۱۳ کاله باکیفیته څېړنه

د څېړنې د ښه افغانستان لپاره

AREU



افغانستان له ۱۹۲۴ کال څخه تر ۲۰۰۴ کال پورې شپږ اساسي قوانين درلودلي دي چې هر يوه يې د اساسي حقونو د ملاتړ مختلفې کچې وړاندې کړي دي. د ۱۹۳۱ او ۱۹۶۴ کلونو اساسي قوانينو د اساسي حقونو تر ټولو لوړې کچې درلودلي دي. سره له دې، يوې قوي سياسي طبقې هيڅکله له دې پرمختلونکو لاس ته راوړنو څخه ملاتړ کړی نه دی. د سمونې دغه ټولې هڅې له پورته څخه ښکته ته وې او په عمده توګه د ليبرال فکره واکمنانو له خوا رامينځ ته شوي دي. په دې توګه، د ۱۹۳۱ او ۱۹۶۴ کلونو د اساسي قوانينو مترقي لاس ته راوړنې يوازې د هغو خلکو له خوا له ماتې سره مخامخ شوې چې د هغو دګټو لپاره جوړې شوې. په همدې ډول، د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون هم د نخبه او وتلو کسانو له خوا رامينځ ته شو، او له پاسه څخه ښکته جريان ګڼل کيږي. د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د افغانستان په قانوني او حقوقي تاريخ کې يوه خورا مهمه پيښه ګڼل کيږي او په ټوله اسلامي نړۍ کې خورا مترقي او پرمختللي اساسي قانون شميرل کيږي. دغه اساسي قانون نه يوازې مدني او سياسي حقونه بلکې همدا ډول ټولنيز، اقتصادي او فرهنګي حقونه د نړيوالو بشري حقونو له تړونونو سره سم تامينوي. د تيرې لسيزې په موده کې يو شمير متني ابهامونو د اساسي حقونو په تطبيق باندې اغيزه کړې ده؛ د بيلګې په توګه د اسلامي قوانينو په انطباق پورې تړلې موضوع، او همدا ډول په پرمختيايي او امنيتي ستونزو پورې تړلې موضوعګانې يادولای شو. په هرحال، له دغو ستونزو سره سره، د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون له يوې لسيزې څخه ډيره موده زغم کړې او په افغانستان کې يې د اساسي حقونو د ساتنې په لار کې مهم پرمختګونه کړي دي.

## افغانستان په اساسي قوانينو کې د اساسی حقونو تاريخ

د افغانستان د شپږو اساسي قوانينو په کتار کې، د ۱۹۳۱، ۱۹۶۴ او ۲۰۰۴ کلونو اساسي قوانين په هيواد کې د اساسي حقونو په تکامل کې تاريخی تحولات ګڼل کيږي. د ۱۹۳۱ او ۱۹۶۴ کلونو د اساسي قوانينو د تسويد د جريانونو په چاپيريال کې خبرې اترې د اساسي حقونو فلسفی مبداء يا د اساسي حقونو د مدني فرهنګ شتون ته انعکاس نه ورکوي. په بل عبارت، د ۱۹۳۱ او ۱۹۶۴ کلونو په اساسي قوانينو کې د اساسي حقونو شامليدل د هغو واکمنانو د شتون مستقيمه نتيجه وه چې له غرب سره آشنا وو او له تکنولوژيکي نوښتونو سره يې مينه درلوده. په دې اړه، د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې د قوې اساسي حقونو د موادو شامليدل د نړيوالې ټولنې تداخل او د نوموړي اساسي قانون د مسودې د جوړيدلو په جريان کې په غربي نړۍ کې د روزل شوو افغاني وتلو کسانو د ګډون نتيجه وه.

د افغانستان لومړی اساسي قانون د شاه امان الله په وخت کې جوړ شو. پخپله د اساسي قانون جوړيدل د افغانستان په حقوقي او سياسي تاريخ کې خورا ډيره لويه پيښه وه. د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون اسلام د دولت رسمي دين ګڼلي او له هندوانو او يهودانو څخه يې غوښتي چې مشخص ډول جامې واغوندی او ځانګړې ماليه ورکړي. په هر حال، د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون هم يو لړ اساسي حقونه ؤمنل چې په هغو کې له په زور ګرفتارولو څخه آزادي او د مرييتوب ويجاړول شامل وو. د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون يو بل لوی مهم بدلون وو چې په افغانستان کې د اساسي قانون پالنې او د اساسي حقونو په تکامل کې يو ستر ګام، ګڼل کيږي. د ۱۹۲۴ کال د اساسي قانون دريم څپرکی د اساسي حقونو په هکله ۱۲ مادې لري چې په هغو کې د برابری او نه توپير ، د شکنجه کولو او ځورولو منع کول، د خوځښت آزادي، د ځرګندونو او نظرياتو آزادي، د مسکن او شتمنۍ درلودلو آزادي او خونديتوب، او د سياسی مشارکت حقونه شامل دي.

په هر حال، د افغانستان د دغو مترقي شيبو ترڅنګ داسې اساسي قوانين هم جوړ شوي دي چې د اساسي حقونو په لار کې يو بېرته پاتې ګام شميرل کيږي. د امان الله خان تر راپرزيدلو وروسته، په ۱۹۳۱ کال کې نادر شاه د افغانستان دويم اساسي قانون نافذ کړ، چې په هغه کې د اساسي حقونو په اړه ۱۵ مادو وجود درلود. په هر حال، په عين موده کې دولت د اساسي حقونو د پراخو او په منظمه توګه د نقض کيدلو مسول ګڼل کيږي. د ۱۹۷۷ او ۱۹۸۰ کلونو اساسي اصول د اساسي حقونو په اړه يو مهم شاته تګ شميرل کيږي ځکه چې دواړو اساسي اصولو غوښتل يو استبدادي دولت ته قانونيت ورکړي او د سياسي اپوزيسيون مخنيوی وکړي.

## د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون: تيوری او عمل

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون يو لړ اساسي حقوق را منځ ته کړل او د اساسي حقونو د تامين لپاره د بشري حقونو يوه ملي اداره جوړه کړه او د اساسي حقونو د عملی کولو لپاره يې يو شمير لارې په ګوته کړې. د دغه قانون ۶ مه ماده وايي چې دولت مکلف دي چې د ټولنيز عدالت، د بشر د درنښت د ساتلو او بشري حقونو څخه د ملاتړ پر بنسټ يوه پرمختللې ټولنه جوړه کړي. د بنسټيزو حقونو په اړه، اساسي قانون معاصره لار تعقيبوي او په تفصيل سره د اساسي حقونو يوه سلسله برابروي. په اساسي قانون کې د ټولنيزو، اقتصادي او فرهنګي حقونو ځايول يو لوی امتياز او معيار ګڼل کيږي، ځکه چې د پخوانيو اساسي قوانينو په پرتله يو قدم وړاندې ېدي او خلکو ته روغتيائي پاملرنه، زده کړې، او فرهنګي حقونه برابروي.

د افغانستان په شرايطو کې، د هيواد حقوقي او سياسي تاريخ ته په کتنې سره، په اساسي حقونو پورې تړلی مادې لکه ۲۲ مه ماده چې د قانون په وړاندې د ټولو اتباعو برابروالی او په تيره بيا د ښځو او نارينه وو ترمينځ مساوات رامنځ ته کوي يو عمده مخ په وړاندې ګام ګڼل کيږي. دا موضوع ددې لپاره هم ډيره مهمه ده چې د طالبانو د حاکميت په وخت کې د ښځو لپاره رسمي حقوقي مساوات په کلکه توګه له مينځه تللی وو. د

اساسي قانون ۷ مه ماده وايي چې افغانستان به د هغو نړيوالو تړونونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقونو د نړيوالې اعلامیې (UDHR) رعايت کوي. اوس اوس افغانستان د بشري حقونو د يو شمير عمده تړونونو لکه د مدني او سياسي حقونو نړيوال تړون (ICCPR)، د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنگي حقونو نړيوال تړون (IESCR)، د شکنجه کولو د مخنيوي تړون (CAT)، د نژادي توپير د ټولو بڼو محو کولو (CERD) تړون، او د ښځو په وړاندې د تبعيض د ټولو بڼو د له مینځه وړلو تړون (CEDAW) غړيتوب لري. په دې توگه، د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له موادو سره سم، د افغانستان دولت د اساسي قانون په دوېم فصل کې د اساسي حقونو د منلو ترڅنگ هغو حقونو ته هم ژمن دی چې د بشري حقونو په عمده نړيوالو تړونونو کې راغلي دي.

د نوموړو مترقی موادو او احکامو ترڅنگ، د ۲۰۰۴ کال اساسی قانون ځینې متني پیچلتیاوې او ابهامات هم لري. د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې د تناقض يو عمده ټکی د ۳ مې او ۷ مې مادو ترمينځ خپړتيا ده. ۳ مه ماده وايي چې هيڅ قانون نشي کولای د اسلام له سپېڅلي دين سره مخالف وي. ۷ مه ماده، لکه چې پورته وويل شو، وايي چې افغانستان بايد د هغو نړيوالو تړونونو رعايت وکړي چې ورسره الحاق لري. او په دې برخه کې په څرگنده توگه د بشري حقونو نړيوالې اعلاميې (UDHR) ته اشاره کوي. په اسلامي نړۍ کې يو شمير اساسی قوانين، د مصر، ايران او سودان په شمول، غوښتنه کوي چې قوانين بايد له شريعت سره انطباق ولري. په هر ترتيب، د افغانستان اساسي قانون دا ځانگړتيا لري چې په عين حال کې دولت مکلف گڼي چې د بشري حقونو نړيوالې اعلاميې او د بشري حقونو له نورو تړونونو سره ځان برابر کړي. ځينې افغان قانون پوهان، د افغانستان د علماوو د شورا په شمول، استدلال کوي چې د افغانستان مکلفيتونه او ژمنې نړيوالو تړونونو او د بشري حقونو نړيوالې اعلاميې ته، د اسلام له اصولو سره تناقض لري نو ځکه د تطبيق وړ نه دي. نور بيا استدلال کوي چې نړيوال تړونونه او د بشری حقونو د نړيوالې اعلاميې په وړاندې مکلفيتونه او اسلامي اصول له يو بل سره تناقض نه لري. د تيرې شوې لسيزې په مهال په دې اړه مهم بحثونه شوي چې څنگه د نوموړو دوو مادو ترمينځ ظاهري اختلاف له مينځه ولاړ شي.

داسي يو شمير بيلگې د قضائيه قوې او تقنينيه قوې په ساحې کې شته چې دغه دوه مادې له يو بل سره په تناقض کې دي. د بيلگې په توگه، يوې موضوع چې ډېره توجه يې ځانته اړولې ده د مذهب د آزادۍ مسله ده. له اسلامي قانون څخه ځانگړې پوهه اټکل کوي چې د اعدام سزا له دين څخه د گرځيدنې لپاره مناسبه جزا ده. د عبدالرحمن په باره کې، چې عيسويت ته اوښتي و، يوې افغاني محکمې د اعدام سزا ټاکلې وه. په يوه بله بيلگه کې يو ژورناليست، پرويز کامبخش، هم چې د بيدينۍ د موادو په نشرولو کې نيول شوي وو، د اعدام په جزاء محکوم شوی و. په دواړو برخو کې، د نړيوالې ټولنې د ډېر فشار په پايله کې، دواړو کسانو ته له افغانستان څخه د وتلو لاره برابره شوه.

د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ د کمپاين په درشل کې، د مدني ټولنو د ټينگو غوښتنو پر بنسټ، پخواني ولسمشر حامد کرزي د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له مينځه وړلو قانون (EVAW) د يو تقنيني فرمان له لارې تصويب کړ. د نوموړي قانون ځانگړو موادو يو لړ حمايتونه، رامينځ ته کړل چې د هغو پراساس د کوچنيانو ودونه، جبري ودونه او محلي تاوتريخوالی منع شوي وو چې د اساسي قانون پر بنسټ يې له اساسي حقونو او د افغانستان له نړيوالو مکلفيتونو سره سموالی درلود. په پارلمان کې محافظه کارو عناصرو، د رسنيو او ديني جوړښتونو په قانون کې د يادو شوو او نورو موادو په وړاندې اعتراض وکړ، او ټينگار يې کاوه چې په قانون کې بايد د پراخ گډون له لارې چې په هغه کې د مدنی ټولنو او ديني جوړښتونو نظريو انعکاس موندلی وي، بدلون راشي. د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې پراساس د ولسمشر له خوا تقنيني فرمان بې ځنډه نافذ شمیرل کيږي. خو سره له دې بايد تقنيني فرمان هرو مرو په ټاکلي شوي وخت کې پارلمان ته واستول شي. ترڅو چې قانون د پارلمان له خوا تعديل نشي نو نافذ پاته کيږي. په هغه وخت کې ډار وجود درلود چې که چيرې قانون پارلمان ته وړاندې شي نو محافظه کار غړي به له هغه څخه د ملاتړ مخنيوی وکړي. په دې توگه، مدني ټولنو او د پارلمان هغو غړو چې له نوموړي قانون څخه يې ملاتړ کاوه له داسي قانوني او حقوقي لارو چې تر پوښتنې لاندې وي، هڅه وکړه چې قانون د پارلمان په اجنداء کې شامل نشي.

د اساسي قانون د بياکتنې د کميسيون پخوانی غړی ډاکترمحمد هاشم کمالی، چې د يوې مودې لپاره د کميسيون رئيس هم و، استدلال کوي چې د اسلامي قانون او اساسي بشری حقونو ترمينځ تفاوت په دې پورې هم اړه لري چې شريعت څنگه تفسير کيږي. ډاکتر کمالی د ځينو اسلامي هيوادونو لکه سوريې او مراکش مثال راوړي چې هلته شريعت نافذ دی، خو د اسلامي کورنۍ په قانون کې يې پرته له دې چې د ښځو مساوات ته کوم زيان متوجه شي خورا مهم پرمختگونه کړي دي. په دغو اسلامی قضايي واکونو کې د اسلامي قانونی اصولو د تفسير په اړه قوي بحثونه شوي، او په پای کې يې برياली شوي داسې نوی اصول ومنل چې د قرآن په تفسير کې په پراخه توگه منل شوي دي[1]. په دې توگه، د ۳ مې او ۷ مې مادې ترمينځ د ظاهری اختلاف د حل کولو لپاره بايد افغانستان هم د شريعت د دوديز تفسير او تطبيق په اړه محلي بحثونه وکړي.

مهمه ده چې يادونه وشي چې د دغو متني ابهاماتو ترڅنگ، د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پر اساس د اساسي حقونو تطبيق له يو شمير عملی او جوړښتي ستونزو سره مخامخ شوي دي. مهمو پرمختيايي او امنيتی ستونزو د حکومت له خوا د يو لړ مدني او سياسي، په تيره بيا اقتصادي او ټولنيزو حقونو له تطبيق څخه د ملاتړ مخنيوی کړی دی. د يوې خپلواکې او مسلکي قضائيه قوې او د قانون د تطبيق ادارو نه شتون هم له بنسټيزو اساسي حقونو څخه ملاتړ له ستونزو سره مخامخ کړي دی. په ډېرو مواردو کې د قانون د تطبيق ادارې د خپلو مسلکي دندو په جريان کې د افرادو د اساسي حقونو د نقض مرتکب شوي دي. ډاکتر سپنتا د ملي امنيت د پخواني مشاور په توگه ډېر شمير ريپوټونه ترلاسه کړي دي چې په هغو کې د قانون د پلي کولو مامورين د قانون په نقض او شکنجه کولو تورن شوي دي[2]. ډاکتر سپنتا يادونه کوي چې د دغو تومتونو د څيړنې په لار کې او په دغو ادارو کې د اصلاحاتو د راوستلو له هڅو سره سره، ستونزې لکه پخوا پخپل ځای پاتې دي. ددې ترڅنگ د پوهاوي او پوهيدلو ټيټه کچه او همدا ډول په اساسي حقونو پورې د تړلي مدني فرهنگ نه شتون هم د حقونو له ساتنې او تطبيق څخه مخنيوی کړی دی.

---

۱ ډاکترمحمد هاشم کمالی، "د افغانستان اساسی قانون لس کلن شو: کومې ستونزې مطرحې دي؟" (کابل: د افغانستان د څيړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴).

۲ ډاکتر رنگين سپنتا، "د خلکو بنسټيزو حقونو ته يو ځغلنده کتنه: ننگوتی او فرصتونه" (کابل: د افغانستان د څيړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴).

## تطبيق

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پراساس د افرادو لپاره چې خپل اساسی حقونه تطبيق کړي محدودې لارې وجود لري. ښاريان کولای شي محکمو يا د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون (AIHRC) ته د شکايت کولو لپاره مراجعه وکړي. د شکايت کولو مستقيمه وسيله په ۵۱ مې مادې کې مشخصه شوې ده، چې وايي هر څوک کولای شي له يوې اداري څخه د زيانمن کيدو په صورت کې محکمې ته د زيان په اړه شکايت وکړي[۳]. د دې ترڅنګ، د اساسي قانون د ۱۲۱ مادې پر بنسټ، ستره محکمه کولای شي د اساسي قانون په اړه موضوعات، کله چې ښکته محکمه يا حکومت هغه محکمې ته وړاندې کړي، يوازې تر بياکتنې لاندې ونيسي[۴]. په دې توګه، افراد د خپلو اساسي حقونو د نقض په اړه د دعوا محدود امکانات په لاس کې لري.

د افغان د قضائيه قوې په وړاندې ډېرو ستونزو ته په پاملرني سره، د اساسي قانون مسوده ليکونکو يو بديل رامينځ ته کړ چې افراد وکړای شي يوه بله د ډېرلاسرسي وسيله د خپلو اساسي حقونو د عملي کولو لپاره ولري. ۵۸ مه ماده وايي چې هر څوک کولای شي د خپلو اساسي حقونو د نقض کيدلو په صورت کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون (AIHRC) ته شکايت وکړي[۵]. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون کولای شي د بشري حقونو د نقض کيدلو موارد محکمو ته راجع کړي او له شکايت کوونکو سره مرسته وکړي. مهمه ده ووايو چې ۵۸ مه ماده ټولو ځانګړو افرادو ته د شکايت حق ورکوي او د ښاريانو شکايتونو ته غوږ نيسي. د دې ترڅنګ د ډېرو نورو اساسي قوانينو پرخلاف، داسې ښکاري چې ۵۸ مه ماده د «بشري حقونو» او د «اساسي قانون د حقونو» ترمينځ تفاوتونو ته پام نه کوي. په دوديزه توګه، د دې لپاره چې بشري حقونه د ملي محکمو په وړاندې نافذ وګڼل شي، لازمه ده چې يو هيواد له نړيوال تړون سره موافقه ولري او په عين حال کې محلي قوانين تطبيق کړي. په هر حال، د ۵۸ مې مادې پراساس، افراد په افغانستان کې کولای شي د بشري حقونو او د اساسي حقونو نقض کيدل د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون په وړاندې او په باالفعل توګه د محکمو په وړاندې طرحه کړي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون پخوا هڅه کړې چې د اساسي حقونو د پيښو موخه پراخه کړي او د محکمو په وړاندې يې طرحه کړي. په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون يوه دعوا د يو کوچني په استازيتوب سترې محکمې ته وړاندې کړه چې په غلطه توګه د ګوانتانامو زندان ته د دښمني د عمل په تومت، سپارل شوی و[۶]. نوموړی کوچنی په افغانستان کې نيول شوی وو او مخکې تردې چې امريکايي مقامونو ته وسپارل شي د افغان پوليسو له خوا شکنجه شوی و. ډير کلونه وروسته، دغه کوچنی بيګناه ثابت شو، د هغه په اړه تور غلط ثابت شو او هغه بيرته افغانستان ته راوګرځول شو. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون هڅه وکړه چې د افغانستان د حکومت پر وړاندې د کوچني د اساسي حقونو د نقض پراساس دعوا وکړي. په هر حال، سترې محکمې نوموړې دعوا قانوني ؤنه ګڼله او دليل يې دا و چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون نشي کولای د مرافعې غوښتونکی شي ځکه چې دعوا کوونکی حاضر نه دی.

## پايله

افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پراساس د اساسي حقونو د ساتنې په اړه خورا مهمه پرمختيا کړې ده. د قوي قانوني چوکاټ شتون پخپله يو عمده لاس ته راوړنه ده. د بيلګې په توګه د ښځو د حقونو په اړه، د ۲۲ مې مادې پراساس د ټينګ قانوني ملاتړ ترڅنګ، ښځو په تيره لسيزه کې ستر ټولنيز او سياسي حقونه لاس ته راوړي دي. ابهاماتو او تشو په اساسي قانون او قانوني چوکاټ کې کيدای شي قوت موندلي وي. د بيلګې په توګه، د راتلونکي سمونې جريان بايد افرادو ته دا حق ورکړي چې د خپلو اساسي حقونو يا بشري حقونو د نقض په صورت کې نيغ په نيغه لومړنيو محکمو ته خپله دعوا وړاندې کړي. په هر حال، مهمه ده چې په ذهن کې وساتو چې د اساسي قانون د تعديل او د قانوني چوکاټ د قوي کولو لپاره مازې قانوني حل لارې کافي نه دي. په ټول هيواد کې په اساسي حقونو پورې تړلې پوهاوي او د زده کړو د ډېروالي لپاره منظمې هڅې ضروري دي. د اساسي حقونو په اړه د مدني فرهنګ نه شتون، او په تيره بيا د خپلو حقونو په هکله د ښاريانو په مينځ کې د پوهاوي نه شتون د اساسي حقونو د انکشاف او ساتنې په وړاندې عمده ستونزې دي.

## وړانديزونه

- د افغانستان حکومت بايد د ټولنيزو او اقتصادي حقونو د آسانتياوو لپاره، په تيره بيا د زده کړې او روغتيا په ساحه کې ډېرې هڅې وکړي.
- د افغانستان حکومت بايد د قانون د پلي کولو د ادارو د ظرفيت په لوړولو کې چې اساسي حقونو، په تيره بيا مدني او سياسي حقونو ته انکشاف ورکوي، هڅه وکړي.
- حکومت، مدني ټولنه او نړيوال فعالين بايد د اساسي حقونو په هکله د زده کړې او پوهاوي د ډېرولو لپاره هڅه وکړي. په ځانګړې توګه د اساسي حقونو زده کړه بايد په ټولو کچو کې، د لومړنيو ښوونځيو په شمول، شامله شي.
- د اساسي قانون پر بنسټ له حکومت څخه غوښتل کيږي چې خپل نړيوال قانوني مکلفيتونه پرځای کړي؛ په دې توګه يو شمير محلي قوانين بايد سمون پيدا کړي چې له نړيوالو بشری حقونو سره انطباق ومومي. مدني ټولنه او نړيوال فعالين بايد په ځانګړې توګه د پارلمان د غړو ظرفيت غښتلي کړي ترڅو د قانون د اصلاح او بيا کتنې هڅې ترسره کړي.
- د قانون د عملي کولو د ادارو ظرفيت لوړ کړي چې د معافيت د فرهنګ موضوع حل شي.
- حکومت او نړيوال فعالين بايد د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کميسيون ظرفيت لوړ کړي ترڅو د اساسي حقونو د نقض شکايتونه په جريان کې واچوي.

---

۳ د افغانستان اساسي قانون، ۵۱ مه ماده.

۴ د افغانستان اساسي قانون، ۱۲۱ مه ماده.

۵ د افغانستان اساسي قانون، ۵۸ مه ماده.

۶ نادر نادری، (پخوانی کميشنر، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون) شخصی نظريه، د ۲۰۱۵ کال د جنوري ۲۵ مه د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد ورستنۍ خپرونې

| نېټه | د خپرونې نوم | ليکوال | پښتو | دري | دڅېړنې موضوع | د څېړنې دول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کی د قواوو جلاوالی:تیوری او عمل | اروني جیاکودي | ✔ | ✔ | حکومتداري | پالیسي پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کې د اساسي حقونو تدریجي تکامل: ۱۹۲۴- ۲۰۰۴ | اروني جیاکودي | ✔ | ✔ | حکومتداري | پالیسي پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | د افغانستان د څېړنو خبر پاڼه - ۳۱ گڼه | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | | څېړنیز خبرپاڼه |
| مارچ ۲۰۱۵ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دیارلسمه گڼه ۲۰۱۵ | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | ✔ | ✔ | | کتاب |
| فبروري ۲۰۱۵ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: ننگرهار ولایت بېلگه | اشلي جکسن | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسي پاڼه |
| فبروري ۲۰۱۵ | د کار بازار، ټولنیزه نابرابري او په کابل کې گډونکي | ریچارد مالت او ادم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسي پاڼه |
| جنوري ۲۰۱۵ | د پیاز ټولنیز اهمیت: د افغانستان په ننگرهار کې د پیازو د بازار غیر رسمي قواعد او مقررات | جولیا مینویا، ادم پین او ومیق الله ممتاز | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسي پاڼه |
| دسمبر ۲۰۱۴ | کوچنیان ولې یوازې سفر کوي؟ د کوچنیانو، کورنیو او له افغانستان څخه د استوونکو ټولنو له نظره اروپا او نورو صنعتي هیوادونو ته د تگ انگیزې | چونا آر. اچاویز جنیفربگا پورو لیحه ویلفر داري شکریه آزادمنش | ✔ | ✔ | کډوالي او نړیوالې شبکې | تحلیلي څېړنه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د ښځو او رهبریت: درسونه او وړاندیزونه | آریه نجات | ✔ | ✔ | حکومتداري | پالیسي پاڼه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د خلکو بنسټیزو حقونو ته یو ځغلنده کتنه: ننگوتې او فرصتونه | داکتر رنگین دادفر سپنتا | ✔ | ✔ | حکومتداري | موضوعي څېړنه |
| آگست ۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو کومې ستونزې مطرحې دي؟ | داکتر محمد هاشم کمالي | ✔ | ✔ | حکومتداري | تحلیلي څېړنه |
| آگست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو ښخړودحل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | اروني جیاکودي | ✔ | ✔ | حکومتداري | پالیسي پاڼه |
| آگست ۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فیشستین او دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | پالیسي پاڼه |
| جون ۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: ننگرهار ولایت بېلگه | اشلي جکسن | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | موضوعي څېړنه |
| جون ۲۰۱۴ | د گردي میز بحث: د افغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | حکومتداري | د گردي میز د بحث جریان |
| جون ۲۰۱۴ | له بدو بې بدتر کې د نښتو په ولایتونو هلمند او ننگرهار کې د کوکنارو کر ته پام | دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| می ۲۰۱۴ | افغانستان: د کلیو د جلاکولو او ارزونې لپاره د یوې طریقې جوړول | آدم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| می ۲۰۱۴ | افغان ملي پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پایښت پروړاندې پرتې ننگونې | انتونیو جیستازي او پیتر کوینتن | ✔ | ✔ | حکومتداري | تحلیلي څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | ټولنیز ملاتړ او د کار پروگرامونه څنگه په ټولنیزو ځایوالي کې ونډه اخلي؟ د افغانستان، بنگله دیش، هند او نیپال څخه شواهد | بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر او ربیکا هولمز | ✔ | ✔ | جندر | ترکیبي څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | په افغانستان کی د برک ( BRAC (د ژوندانه د مهارتونو د زده کړو او کاري مهارتونو د روزنې ونډه په ټولنیز مشارکت کی | چونا اچاوز ،بابکن بابه جانین ،جسیکا هیګن زنکر | ✔ | ✔ | جندر | پالیسي پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنې کړنلارې څرنگه په افغانستان کې له ټولنیز ادغام سره مرسته کوي؟ د BRAC )برک( د ژوند د روزنیزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معیشت لپاره د زده کړې بېلگې | چونا آر. ایچاویز، بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر،شاهین اکتر، او جنیفرباگوپورا | ✔ | ✔ | جندر | موضوعي څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د خاورې ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله | پاول فیشستین | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولو خطرونه | غزال حارث | ✔ | ✔ | حکومتداري | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې حکومتولي: یو پېژند | آریا نجات | | | حکومتداري | تحلیلي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ( پانگونو ) پرمختگ او سیمه ییزه سوداگري | مجیب مشعل | | ✔ | سیاسي اقتصاد | کاري لیکنه |